# د یوې ټولنې غړي شئ!

**په سویډن کې ټولنیز ژوند ډېر پراخه، متنوع او فعال دی**

د دې لامل څه دی؟ څه شی سبب ګرځي چې انسانان خپل ځانونه وقف کوي او په ټولنو کې عضویت اختیاروي؟ یو ټولنه یا انجمن څرنګه پر مخ بیول کیږي؟ په دې مالوماتي کتابچه کې دا ډول پوښتنو ته ځواب وړاندې شوی دی.

**ټولنیز فعالیتونه ـ یو غوره د جرګو او مرکو ځای**

ټولنیز فعالیتونه د هر چا پر مخ پرانیستي وي. دا په دې مانا ده چې ټول انسانان حق لري چې په یوه ټولنه کې غړیتوب ولري. او د دې لارې تاسو
یو داسي مقصد ته د رسېدو لپاره چې ستاسو په اند مهم، په زړه پوري او دلچسپه وي، هلې ځلې کوئ. تاسو ګڼ شمېر نورو کسانو سره آشنا کیږئ چې
ستاسو په څېر دلچسپي او لیوالتیا لري.

**ټولنیز فعالیتونه غیرانتفاعي دي**

د دې مانا دا ده چې که لویان دي او که کوچنیان ټول فعال غړي په خپل اوزګار وخت کې پرته د کوم مالي عوض څخه د ټولنې لپاره خدمت کوي، چې دا ډول خدمت په بل عبارت
غیرانتفاعي کار بلل کیږي.

**مېندې پلرونه په ټولنه کې مهم رول لوبوي**

د دې لپاره چې د ځوانانو او کوچنیانو د ګټو لپاره هلې ځلې کوونکی یو فعالیت ژوندی پاتې شي باید مېندې پلرونه کله کله وخت وباسي او د ټولنې سره مرسته وکړي. دا مرسته کېدای شي کله کله خلک خپل موټر کې د هاکي یوې لوبې یا د لمبا ټورنامنټ ته د رسولو او یا په ځنګل کې د کوچنیانو په چکر کې ونډه اخیستلو په شکل کې وي. دا ډول ګامونه د یوې داسي ټولنې لپاره اړینې مرستي شمېرل کیږي چې غړي یې په اوزګار وخت کې داوطلبانه خدمت کوي.

**تشویقوونکي لارښودان او روزونکي**

که آس زغلول وي، د شطرنج لوبه وي او یا د کمپنګ فعالیت، د هر ډول فعالیت شا ته تل یو لارښود یا روزونکی موجود وي چې ځوان فعالان
حمایه او تشویق کوي. دوی خپل وخت وقف کوي او د مسؤولیت څخه ډکه د مشرۍ دنده پر غاړه اخلي. د دې نه علاوه دوی د ځوانانو لپاره
یوه غوره نمونه هم وي. معلومداره خبره ده چې روزونکي او لارښودان زموږ په ټولنو کې یو مرکزي رول لوبوي.

**ټولنه د خپلو غړو په متو ژوندۍ وي**

د غړو لیوالتیا او هلې ځلې د ټولنې د زړه مثال لري. د اقتصاد په برخه کې د ګډون کوونکو فیسونه او
کلنی حق العضویت ډېر مهم رول لوبوي. دا د ټولنې د اقتصاد د ملا د تیر حیثیت لري. ځینې وختونه کېدای شي ټولنې د کمون او نورو ادارو
څخه مالي بسپنه هم ترلاسه کړي. مالي بسپنه د دفتر او نورو ځایونو د کرایې او د وسایلو د اخیستلو لپاره په کار وي.

**غړي واک لري او پرېکړو کې برخه اخلي**

غیر انتفاعي ټولنې د ولسواکۍ په بنسټونو باندې ولاړې وي. د دې مانا دا ده چې تاسو د غړي په حیث کولای شئ چې د فعالیتونو په اړه بحث او پرېکړو کې ونده واخلئ. په کال کې یو ځل ټولنه کلنۍ غونډه دایروي چې په دې کې غړي د ټولنې د فعالیت او اقتصاد په اړه
پرېکړې کوي او سربېره پر دې د ټولنې د شورا غړي هم ټاکل کیږي. د شورۍ غړي بیا تر بلې کلنۍ غونډې پورې د ټولنې د هر ورځنۍ چارو مسؤولیت پر غاړه اخلي. شورا ډاډ ترلاسه کوي چې ټولنه د خپلو اصولو پیروي وکړي. اصول د ټولنې د فعالیت لیکل شوي مقرراتو ته وایي او سرې وییلی شي چې دا د ټولنې قانون دی.

**په سویډن کې ګڼ شمېر ټولنې وجود لري**

په سویډن کې یو شمېر ټولنې د سلو کالو څخه مخکې جوړې شوي دي او نورې په نږدې وختونو کې منځته راغلي دي. د بدني روزنې په برخه کې ترټولو ډېرې ټولنې شتون لري او تقریباً په هر ډول سپورټونو کې فعالیتونه مخ پر وړاندې بیایي. همدا راز ګڼ شمېر کلتوري ټولنې هم شته دی چې د تیاتر، موسیقۍ او نڅا په برخه کې فعالیت لري. د دې نه علاوه د بېلګې په توګه مذهبي او په طبیعي سیمو کې د چکر وهلو ټولنې او همدا راز داسي ټولنې چې د بشر د حقوقو، د کوچنیانو د حقوقو لپاره او د چاپیریال په مسائلو کې هلې ځلې کوي .